اوبه این ترتیب با انکارنفس به مقابله برمی خیزد خود می گوید : « وقتی انکارنفس رامحکوم می کنم منظورم نفی خودی درمبانی معنوی آن نیست .چرا که نفی نفس درعرصه معنویات منبع نیرو جهت تقویت خودے یانفس است . درمحکوم کردن نفس یاانکارنفس منظورم آن دسته از رفتارهاست که منتهی به خاموش شدن شعلهء من بعنوان یك نیروی متافزیکی میشود چراکه خاموش شدن این شعله به معناے ازخودجداشدن وناتوان شدن براے حصول به خصوصیات جاودانهءفردی است ، آنگونه که من می فهم کمال مطلوب تصوف اسلامی خاموش شدن شعلهء (من) یافنائے نفس نیست . فنادرتصوف اسلامی به معنای زوال نیست بلکه تسلیم شدن نفس درحد کمال دربرابرذات الهی است . کمال مطلوب تصوف اسلامی مرحله ئی فراترازفنا یعنی بقاست که ازنظرمن والاترین مرحلهء آن همان اثبات نفس است »
بناء اقبال این باورراکه روح چون قطره ئی است که باید جذب ومحو ذات خداوند(ج) شود نمی پذیرد برعکس بااستناد به حدیث : تخلقو باخلاق الله » میگوید که باید انسان صفات عالیه آن ذات مقدس رادررخودجذب کند ومتصف به اخلاق الهی گردد نه اینکه خود رادرآن ذات محو سازد . هستی درچنین حالت جذب محوونیانمی شود .
درگلشن راز جدید می گوید :

به بحرش گم شدن انجام مانیست
اگراوراتودرگیرے فنانیست

وقتی اقبال ازتصوف اسلامی سخن می گوید منظورش بیشتر تعالیم عرفانی مولاناجلال الدین است مولانا نیز جذب شدن ومحوشدن رانمی پذیرد بلکه معتقد به جذب اخلاق خدائی درخویش است مولانامی گوید : بزیرکنگره کبریاش مردانند
فرشته صید وپیامبر شکارویزدان گیر
واقبال میگوید :

دردشت جنون من جبرئیل زبون
صیدے
یزدان به کمند آور اے همت مردانه

مولانائے رومی درین معنی تشبیهی از آهن وآتش دارد . وقتی آهن درآتش نهاده شود درابتدا آهن از آتش فرق می شودولی بتدریج که حرارت آهن رابگداز می آورد کاملاً شبیه به پارچه ئی ازآتش می گرددولی درماهیت آهن درآتش محوونانمی شود بلکه خاصیت آتش رادرخودجذب میکند .

رنگ آهن محورنگ آتش است
زآتشی می لافد وآتش وش است
چون به سرخی گشت همچون زرکان
پس اناالنار است لافش برزبان

شدزرنگ وطبع آتش محتشم
گوید او من آتشم من آتشم
آتشم من گرتراشك است وظن
آزمون کن دست راہرمن بزن

وقتی جذب ومحوویکجاشدن با بحرہی کرانہء ذات احد درمیان نباشد انسان باحرکت جاودانہء خویش آرزو ومنزل ومقصد خلق میکند وباتخلیق مقاصد که لازمۂ حیات است ازمنزلی به منزل دیگربه پیش می رود عقب اقبال درین باب معنی آیه (اناالله واناالیه راجعون) راذهن تداعی میکند یعنی بازگشت بسوے اوست نه یکجاشدن با خود او. وکمال زندگی درحرکت بسوے آن مقصداست :

هزاران مقصدافتددرره ما
به پایان کی رسد جولانگه ما
مسافرجاودان زی جاودان میر
جهانی راکه پیش آید فراگیر

هزاران مقصدافتددرره ما
به پایان کی رسد جولانگه ما
مسافرجاودان زی جاودان میر
جهانی راکه پیش آید فراگیر
همانگونه که آیات خدا(ج) بی انتهاست این راه و منزل رانیز پایانی نیست درجاویدنامه می گوید :
زانکه آیات خدالا انتهاست
ای مسافرجاده راپایان کجاست
نفوذعقیده «همه خدائی » درتصوف اسلامی موجب گردید که مقام والاے بشرے وارزش انسان بعنوان موجود جداگانه ازمیان برودوهستی ، گمان واندیشه ووهم به شمارآید بیدل می گوید :
وهم هستی بست براندیشه ام رنگ دوئی
تاکسی خودرانمی بیند به وحدت واصل است
ویا :

ای عدم پرورده لاف هستی ات جای حیات
بی نشانی رانشان فهمیده ئی تیرت خطاست
اماسرود اقبال سرودے سرشارازعظمت مقام آدمی است چه این موجود همانست که ملائك دربرابرش سربه سجده نهاده اند درغزل شورانگیز ی اقبال (میلاد آدم) راچنین تصویرمی کند :

نعره زدعشق که خونین جگرے پیداشد
حسن لرزید که صاحبنظری پیداشد
فطرت آشفت که ازخاك جهان مجبور
خودگرے خودشکنی خود نگرے پیداشد
خبرے رفت زگردون به شبستان ازل
حذرای پرده گیان پرده درے پیداشد
آرزوبیخبر ازخویش به آغوش حیات
چشم واکرد وجهان دگری پیداشد
زندگی گفت که درخاك تپیدم همه عمر
تازین گنبد دیرینه درے پیداشد

اقبال وقتی ازمقام والاے انسان سخن می گوید اشاره به رابطه دوجانبه بین خالق ومخلوق دارد ومیگویدهمانگونه که ما درجستجوی خداهستیم خدانیز درتلاش ماست که پیام رہانی راہرما می فرستد.

مردمومن باخدا دارد نیاز
باتوماسازیم توباماپساز

درگلشن رازجدید می گوید :

ازاوخودرا بریدن فطرت ماست
تپیدن نارسیدن فطرت ماست
نه ماراد رفراق اوعیارے
نه اورابی وصال ماقرارے
نه اوبی مانه مابی اوچه حالست
فراق مافراق اندروصالست ...

مهمترین رسالت اقبال احیای روح خودے درمسلمانان است وبنابراین وے باهرآنچه که موجب نفی خودی یاتضعیف خودے است درافتاده وباآن به ستیز برخاسته است اقبال می گویدکه « نفی خودے »مفکوره ئی است که اقوام مغلوب آنرا ابداع نموده اند تاازطریق مخفی اخلاق اقوام غالب ومسلط برخویش را ضعیف سازند وبه این ترتیب ازآنان

انتقام بگیرنداقبال در«اسرارخودے »درهمین معنی حکایتی دارد : تعدادے گوسفند درمزرعه ئی بدون هراس از تهدید دشمنان حیات بسرمی بردندوبعلت وفورنعمت نسل شان درحال تزاید بودتاآنکه ناگاه شیران گرسنه برمزرعه هجوم بردندوهرروز چند گوسفند راطعمه خویش می ساختند چون مدتی به این منوال گذشت وگوسفندان راتوان مقابله باشیران نبود یکی از گوسفندان تدبیری اندیشید زیرا :
بهر حفظ خویش مرد ناتوان
حیله هاجوید زعقل کاردان
گوسفند خودرا رسول از جانب یزدان برای شیران خواند وبه آنان اندرز داد که :
هرکه باشد تند وزورآورشقی است
زندگی مستحکم ازنفی خودی است
وبه آنان تعلیم داد که :
جنت از بهرضعیفان است وبس
قوت ازاسباب خسران است وبس
جستجوی عصمت و سطوت شراست
تنگدستی ازامارت خوشتراست
این علفزارجهان هیچ است هیچ
توبراین موهوم ای نادان مپیچ
چون افسون گوسفند برشیران کارگرافتادوشیران برتعالیم وے عمل کردند :
اقتداروعزم واستقلال رفت
اعتباروعزت واقبال رفت
پنجه هاے آهنین بی زورشد
مرده شد دلها وتن هاگورشد
شیربیدار ازفسون میش خفت
انحطاط خویش راتهذیب گفت
اقبال افلاطون یونانی را که تصوف ازاندیشه وے نیز تاثیر پذیرفته دارای مسلك گوسفندے می شماردومسلمانان را ازاندیشه ء وی برحذرمیدارد :
قوم ها از سکراومسموم گشت
خفت وازذوق عمل محروم گشت
ادامه دارد .

دتوري شپې مسافر

لیکوال : نسیم حجازي،

ژباړه او ولیدیز :
م ــ ز ــ شفیقي

د تیروګڼو لنډیز :
ګرانولوستونکو ا تاسو ولوستل چې دنصراني پاچاڤردیناند لښکرې غرناطې ته لنډې پرتې دي او دغرناطې له امیرعبدالله سره یې د(۷۰) ورځو لپاره اوربندکړی .
همدارنګه تاسو دیوې مجاهدې کورنۍ داستان ولوست چې ځوځړې یې شهیدان شوي اواوس یوازې عاتکه دهغه نه پاتې ده، عاتکه دکاکا په کورکې اوسیده، دهغه کاکاهاشم دحامدبن زهره ملګرې دی اوحامدبن زهره دغرناطې دمسلمانانوسترلاربنوددی ، دهغه زوی « سعید » هم درضاکارومجاهدینو له ډلې نه دی حامدبن زهره دموسی بن ابی غسان په مشوره له سمندرنه پورې غاړې«افریقا» ته دمرستې لپاره روانیږي ، یوه ورځ داندلس مسلمانان دموسی بن ابی غسان دشهادت په ویرکښیني .
افریقاته دحامدبن زهره له روانیدو وروسته دعاتکې کاکا «هاشم » له عجیب حالت سره مخامخ کیږي ، هغې ته یوه ورځ یو میلمه دعمیر سره یوځای راځي ، عاتکه چې پردې سړي وینې وینې یې په رګونوکې په غورځنګ شي ، هغه عتبه دعاتکې دپلارقاتل دی، خو عتبه له هاشم سره دشپې په کوم نامعلوم لوري روانیږي سهارعاتکه خبریږي چې حامدبن زهره هم دشپې راغلی وءاوبیا په شپه کې غرناطې ته ولاړعاتکه له عتبه سره دخپل کاکا په مجلسونو شکمنه کیږي چې هغې دابوالقاسم سره لاس یوکړی ،وله حامدبن زهره سره راغلی میلمه په هغه پسې غرناطې ته لیږي ترڅو پرهاشم باورونه کړي ، سلمان دترکانودسمندري قواوء یومجاهددی چې له حامدبن زهره سره راغلی و هغه هم دعاتکې په مشوره غرناطې ته ځي خوحامدبن

زهره ته نژدې رسېدلای ، حامدبن زهره دغرناطې مسلمانانو ته خپل وروستي پيغام رسوي او له ښارنه وزي .
سلمان داحس کوي چې حامدبن زهره ته خطرپېښېږي نو سمدستي له غرناطې نه وربهسې راوځي دهغه له راوتلو سره توند باران پيل کيږي او شپه خپل تورڅادربهرځمکه غوړولې .
داستان تردې ځايه رارسېدلی ، داتاسو اوداهم د داستان پاتې برخه .

دحامدبن زهره شهادت :

توندباران اورېده ، سلمان څودقيقې آس ښه تېز وځغلاوه ترڅو هغه ځای ته ورسېدچې له سړك سره له ښې اوکېڼې خوانه دوې نورې لارې بېرځای شوې وې ، هغه آس ودراوه او څوشېبې يې شاوخوا ښه په ځېروکتل او بياېې مخ په وړاندې لاره لنډوله ، نژدې له يوه مېل منزله وروسته يې ناڅاپه دآسونو دپښوترپهار واورېد ، هغه زردآس جلب راوګرځاوه او دسړك يوې خواته يې ديوې ونې اړخ ته پټ ودراوه ، دسترګو په رپ کې دوه آسان په منډو له هغې نه تېرشول اوسلمان داسې حس کړه چې پرآسانو څوك سپاره نه وو او دبرښنا په رڼاکې يې چې پسې وکتل نوربښتياهم دهغه اټکل په ځای وه .
هغه تراوسه ځان ته باورکاوه چې حامدبن زهره که له ښاره راوتلی وی هم په ډېر لاره به کورته نه وي ستون شوی خو دوارخطاپوازی آسانو پرمنتهوېې زړه وسټوئيد ، بيا به يې ويل چې که دادحامدبن زهره او پاسېيد آسونه وي نو بايد دهغوی دکورپه لوری تلل وای دابه پاددښمن آسونه وي اوپادحامدبن زهره دهغوملګرو آسونه وي چې له ښارنه ورسره راغلل ، ښايي حامدبن زهره ته څه خطرنه وي پېښ شوی هغه په دغسې مو هومو هيلوزړه ته تکيه ورکوله څو شېبې وروسته هغه بيا دآسونو دپښو غږواورېد ، دبرښناپه رڼاکې يې ښې لوری ته يوه نرېدلی خونه اودسړك پرغاړه حوونی وليدی ، هغه زرآس وروګرځاوه اودهغې کوټې يوه دېوال ته يې ودراوه پخپله له آسه راکوز شو او بېرته زردسړك غاړې ته ديوې ونې شاته پټ شو ، دبرښنا په روښنايی کې يې شپږکسان وليدل چې په آسانوسپاره وو دهغه له مخې سره سړك لږځورو او دباران او به پکې راټولې شوې وی ناڅاپه سپاره په دغه ځای کې ودرېدل او په خبروېې پيل وکړ خو دباران له زوره يې خبرې سمې نه اورېدل کېدې ، په اوبوکې دهغوی آسان په يوه ليکه يو پربل پسې شول او کرارکرار راپورې وتل ، هغه اوس سلمان ته دومره نژدې راغلل ووچې له باران سره سره يې خبرې ښې اورېدې شوای ، يوه سپاره په زوره وويل : موږهسې په باران کې ګانونه په خوارې کړل ، اوس به هغه غرناطې ته رسېدلی وی .
بل تن ځواب ورکړ : که آسان غرناطې ته رسېدلی وی په دې پوهېږی چې زموږ به څه حال شي ؟
دريم کس وويل : دخدای (ج) لپاره اوس دادوعاکوی چې څوکيداران دروازه ورته خلاصه نه کړي چې په ښارکې به بلواجوړه شي ، که پهره داران وپوهيږي چې دغه کسان دحامد بن زهره قاتلان تعقيبوی نوخامخابه دروازه ورته بېرته کړي ، آن چې موږ به ونيسي اوپاريدلو خلکوته به موسپاري : وروره داسې هم کېدای شي چې پهره داران پرهغوی زموږدانديوالانو ګومان وکړی او پاريدلی خلك زموږپه مخه کې ولاړوی . زموږانجام په هرصورت بېر خراب دی ، که زه خبروای چې هغه دحامدبن زهره دلارې نيولو لپاره راغلی نوما به هيڅکله ملګری نه وه ورسره کړی ، اوس داڅوك منی چې موږ له ناآشناخلکوسره راوتلی ووا وبدنيتو نه مونه درلودل ، تاسوپول په دې شاهدان يې چې ماپرحامدبن زهره له غېښواورولونه ايسار ولی .
- صيب ! تاهغه وخت ايسارکړوچې زموږغشي له لېندونه خوشي شوي وو او پنځه تنه پرې لګېدلي ووا اوس موږديوې پېرې سپاره يو او موږته په توره شپه کې څه معلومه وه چې زموږدغشو نښه حامدبن زهره دی ، اوس پرېږو بل له شاهدی ويلو نه څه جوړيږی دټولو همدايو مقصددی چې بايد روغ خپلوکورونوته ستانه شو .
سلمان ددوی له خبرونه معلومه کړه چې دحامدبن زهره اوپادهغه ددوونورو ملګروتنې هغوی ته په لاس نه وی ورغلی اواوس دوی تش آسونه دلرضی کسانوپه نامه تعقيبوی ، نوکه له آسونونه لويدلی کسان ټپيان وی اودوی چې دښاردروازی ته ورسېږی او وپوهېږی چې تش آسان يې تعقيب کړي بېرته ښايي دغدارانو پرلوی پوځ دټپيانو موندلو لپاره راشی نودهغه په خيال دحامدبن زهره اوپادهغه دنوروملګرو دخلاصون لپاره ضروری وه چې دغه کسان بايد له ښارنه بهربوخت وساتل شي غشي يې په لېنده کې کېښوداوله ويشتلو سره يې دلومړی سپاره چيغه پورته کړه ، او بيلنه دی چې سلمان نوروسپروته څه فرصت په لاس ورکړی دوه نورغشي يې هم وويشتل ، څو لحظې په اوبوکې دآسونوځغليدلوترپهاراودسپرونارې سورې پورته شوې اوبياسلمان دبرښنا په رڼاکې وليدل چې يو تن له آس نه لويدلی او پيل پرآسانو پسې ځغلی ، سلمان بياپه شراونورسپاره دسترګوپه رپ کې وتښتيدل سلمان توره وايسته او هغه له آس نه غورځيدلی کس ته يې ځان ورساوه اوورته وی ويل چې اوس ستاملګری بېرته نه راګرځي تسليم شه ! هغه لاس پورته کړل اودسلمان امرته يې غاړه کېښوده او په عجزيې وويل : زه بې ګناه يم ، ماکه پرتاسودغشونه اورولو امرنه وای کړی ښايي تاسو به هم ژوندی نه وای پاتې . سلمان وپوهيده چې دتښتو آسونو خاوندان حتماً ټپيان دی او چېرته يې ګانونه ګوښه کړي بيايې په ډېرحکمت له تښتې دپښې داسې پوښتنه وکړه چې هغه په څه منګرنښې اوتول حال ووايي .
په کوم ځای کې مولاره نيولې وه ؟
زخمي په له ويرې ډك غږ ځواب ورکړ : کلاته نژدې دسپند پرسردپله پردې غاړه .
هو !
او دهغه زوی سعيد ؟ سلمان په ژړغوني آوازوپوښتل .
دهغه په باب نه پوهيږم که هغه ورسره وی نوامکان لری روغ وتلی وی .
تاسو څوکسان وژلي وه ؟
موږداووتنو تنې وليدې په هغوکې دوه زموږ انديوالان وو خو خدای (ج) شاهد دی چې ماپه حمله کې هيڅ برخه نه ده اخيستې .
سلمان په غوسه شوی ويل : ته دروغ وايي .
هغه وويل : په خدای (ج) سوګند دی چې زه دروغ نه وايم ، دحامدبن زهره قاتل مانه پېژندوموږپه دې هم نه پوهيدوچې موږدهغه لاره نيولې ده موږته کوتوال وويل چې څو تنه رضاکاران د خطرناکو مجرمانو په لټه کې دي تاسي به ورسره ملګری شي ، هغې ويل چې له ښاره ووزی مخو نه به په پردوکې پټوی چې ونه پيژندل شی هغه کسانوچې موږته يې قومانده راکوله مخو نه دهغه پوښلی وو څکه موهيڅ ونه پېژندل .....
سلمان : بې عقله زه ستاوږده داستانو نه نه اورېدی خبرې لنډوه .
ټپي ځواب ورکړ : صيب چې کيسه ټوله ونه کړم ستازما پربې ګناهی باورنه راځي ، کله چې پله ته راغلو دلته دپله يوې اوبل خواته دبېروشاته غلی کيناستو باران ښه توند اورېده چې حامدبن زهره اوملګری يې راغلل موږچې دهغو داسونو ترپهارواورېد ، دزضاکاروقوماندان دتيارې امرراکړاوکله چې هغوی پله ته راورسېدل غږوربهاندی وشوچې ودرېږی کله چې هغوی ودرېدل قوماندان دغشو اورولو امرراکړ ټولو پرېوغيشي وويشت او پنځه تنه په همغه لومړی حل له آسونو ولوېدل بيامی يو تن وليد چې زموږدېوه ملګری شاته يې ځان ورساوه او په يوه ګوزاريې له دنيانه تيرکړ ، مادبرښنا په رڼاکې وليدل چې دووه تنه په آسونوسپاره بېرته په شا ووتل ، په دې کې يودريم تن هم دزخميانو له منځه پورته شو اوزموږيو بل ملګری يې هم ووژه اوبيا ماهغه دخپلوملګروله غشونه وساته که نه نوخامخا به په همغه ځای وژل شوی وه ، زموږ ناپيژندوی قوماندان راته وويل چې له دې درې واړونه که يو تن هم ژوندی پاتې شي کوتوال به مو ژوندی پرېنږدی .
سلمان وويل : ستازياتو خبروته ضرورت نشته ته داووايه چې حامدبن زهره څه شو ؟
صيب هغه وژل شوی وه هغه چې کله له آس نه لويدلی وه زما په ګومان دوه واره دتورو ګوزارهاندې کړی ووبرسراوسينه يې دتوروټپونه وو ، له هغه سره دوه نورکسان هم ټپيان وو چې هغه يې په تورو ووژل .
دهغوی لاشونه څه شول ؟
لاشونه يې ويالې ته وغورځول امکان لری اوس يې سيندته رسولي وي .
سلمان : خو تاپودروغ وويل .
ټپي : په خدای (ج) قسم که مې هيڅ دروغ ويلي وی .
سلمان : بې عقله تاويل چې اوه کسه مړه وو خواوس ستادويلو له اندازې شپږکسه کيږي .
ټپي : اووم له دې وروسته دی کله چې داپيښه وشوه زموږ اوزموږدناپيژندويو رضاکارانوترمنځ هم لاره بېله شوه موږته يې په دې لاره وويل چې راشو اوهغوی له پله نه بل لوری تيرشول په دې

کې د ټومانچې ډزونه شو او بیا د یوه رضاکار ناري سوري ورسره جګې شوې . موږ یو تن د احوال لپاره ورولیږه او بیرته چې راغی ویل یې له هغو درېو تنونه یوه دلته ځان پټ کړی وه او د تومانچې په ډزې د ناپېژندویو رضاکارو یو بل کس هم وژلی دی .
سلمان : بیا تاسو په دې لاره سهاره تعقیب کړل ؟
هو ! موږ چې کوم کسان تعقیبول د آسونو د پښو له ترپهارنه ښکاریده چې یوازې دوه تنه دي او هغه درېیم تن د تومانچې په ډزو د رضاکارانو نظر خپل خواته ورواړاوه او په دې ډول یې دغه دوه کسان د هغوی له تعقیب نه وژغورل ، موږ هم په دې خوشاله شو چې هغه ناپېژندوی رضاکاران په بله لاره سم شول
سلمان : تاته د حامد بن زهره له وژل کېدو وروسته هم دا معلومه نه شوه چې ستا سو لارښوونکی څوک وه ؟
ټهی : نه ، ما مخکې درته عرض کړل چې هغوی په مخ پردې خورې کړې وې .
سلمان : ښه اوس ته هغه څونګړي ته ولاړ شه هلته کېدای شي کومه برخه چت روغ پاتې وي لاندې ترې کېنه زه بیرته غرناطې ته ځم ستا لپاره به څوک راواستوم .
ټهی : د خدای (ج) په خاطر دا ظلم مه راباندې کوه ، که خلک پوه شي چې زه د حامد بن زهره له قاتلانو نه یم کوټوال به مې هم ونیسي ژغورلای اوغو ښې به مې په نوکانو راته بیل کړي .
سلمان : نو ته چیرته تلل غواړې ؟
ټهی : زه نه پوهیږم ، خو غرناطې ته اوس بالکل نه شم تلی ، او زه په دې هم یقین نه لرم چې تر سهاره به ژوندی پاتې شم .
سلمان : تاغوندې خلکو ته داسې زړه رګ کله راځي ، زه پوهیږم چې پرتاله تپ نه دویرې اغیزه زیاته ده ، ته د ښېلو ورته یې خو ماستا د ښېلو وعده کړې وه ، ستاله خبرونه معلومیږي چې را نورکسان ستا تر لاس لاندې وو .
ټهی : صیب ! زه له دې نه نه یم منکر چې هغوی له غرناطې نه زما تر امر او قوماندې لاندې راووتل ، خو له ښارنه تر راوتلو وروسته زما مسئولیت یوازې دا وه چې زه د هغو ناپېژندویو رضاکار وامر او قوماندې پردوی عمل کړم . زه په دې ډیر خفه یم چې ما هغوی زړله غشو ویشتلو نه منع نه کړل .
سلمان وویل : زما په خیال ښایي ستا ملګري غرناطې ته نه وي ستون نو راځه وریسې شو امکان لري په دې لنډ و شاوخواکې پټ شوي وي ، څه چې ځو .

***

ټهی په ډیره بې وسۍ په سلمان پسې روان شو د دوه سوو قدمونو په شاوخواکې تګ نه وروسته یې له یو لوري غږ واوریده : یحیی ، یحیی ! مروان !
سلمان خپل آس ودراوه او ملګري ته یې وویل ! ودریږه ! ستا نوم څه دی ؟
ټهی ځواب ورکړ ! زما نوم یحیی دی .
سلمان وویل : په ځمکه کښېنه او خپل ملګري راوغواړه ، که نه نور مېړندې ما تو م . ټهی په ځمکه کېناست او غږیې وکړ : زه دلته یم .
سلمان ورته وویل : کم عقله په زوره چیغې کړه ، که تا هغوی یوه کړل زما لومړۍ ګوزاربه پر تا وي ورته ووایه چې زه زخمي یم او حمله کوونکو زه مړ وګڼلم او پرې یې ښودم .
زخمي په زوره ناري شروع کړې او سلمان د سړك یوې ګوښې ته د بوټیو اوونو په منځ کې پټ شو ، څو دقیقې وروسته د سړك دکینې لوري له فصل نه د آسونو د پښو آوازراغی ، بیا آسان ناڅاپه ودریدل او یوه تن غږ وکړ : یحیی ! چیرته یې ؟
یحیی ځواب ورکړ ! دلته یم .
مروان چیرته دی ؟
ماته هغه نه دی معلوم .
پرغل کوونکي چیرته دي ؟
ماته نه دي معلوم ، ښایي غرناطې ته تلل وي ، زر راشئ موږ باید زرله دې ځایه ولاړ شو .
یو بل غږ واوریدل شو : هغه څوکسه وو ؟
ماته نه دي معلوم چې څومره وو ، که تاسې لږ نور هم وځنډېږئ له غرناطې نه به لوی پوځ راپسې راووځي د آسونو د پښو غږ پورت شو او بیا د سترګو په رپ کې څلور سپاره سړك ته راورسیدل ، یوه سپاره غوښتل چې یحیی له سړك نه را پورته کړي دې ویل ستا آس مو هلته لرې تړلی دی .
یوه تن وویل : یو ځل دا پریکړه وکړئ چې اوس کوم لوري ته ځو ؟ ....
د سړك له بل غاړې نه ورباندې غږ وشو : اوس تاسو چیرته نشئ تلای ! او بیا په ډیره تونده ی سلمان راووت او د توري په یوه ګوزار یې د یوه سپاره چیغې پورته کړې ، د ځولعظ وپه منځ کې درې سپاره د سلمان تر تورو لاندې د مرګ کومي ته ورننوتل په دې

وخت کې هغه له شانه یو غږ واوریده ، چې ویې کتل د پربښتا په رڼاکې یې دوه کسه ولیدل چې یو له بله په جګړه دي ، سلمان غږ وکړ یحیی ! او بیا یې د یوه بل تن په وینو خپله توره سره کړه .
یحیی ورته وویل : د غه سړي پر تا د غشو ویشتل غوښتل .
سلمان ورته وویل : زما څه شی ته ضرورت نشته ، زما وروستی منزل راررسیدلی ، تا ما ته د احساس راکړ چې یوه ګناهکار ته د ژوند تر وروستي سلګۍ د توبې دروازه خلاصه وي ، زه ستا ډیره مننه کوم اوس باید ته له دې ځای نه ولاړ شې .
سلمان : ته زما ملګری شوی ، زه اوس تا په دې حالت کې کله پریږدم ، دلته نږدې کلی دی زه باور لرم چې هلته ورسیږو زه به ستاد ټپونو د علاج بندوبست وکړای شم .
یحیی ورته وویل هغه یو تن چې وتښتید ووژل شو که بې ځان وایست ؟
سلمان وویل : نه هغه هم ووژل شو .
یحیی وویل : ښه نو اوس زموږ یوازې یو تن « مروان » روغ پاتې دی هغه هم ښایي سیده خپل کلي ته تللی وي .
سلمان وویل زه به تاته آس راولم او بیا به نورکلي ته ولاړ شو په آس یې پښه واړوله او ولاړ . لږ ساعت وروسته یې یو بل آس هم تر شا وریسې روان وه او راورسید په یحیی یې خوهرله پسې چیغې وکړې ، خو هغه هیڅ ځواب ورنه کړ .
بدن کې د ژوند نښې نه وې ، بیا یې راپورته کړ په آس یې واچاوه او په هغه ورانه کوډله کې یې کېښود ، بیا راووت په آس یې پښه واړوله او د جنوب لوري ته د هغه کلي په لوري روان شو چې غرناطې ته د تګ په وخت کې یوه کوچني هلك د دوډۍ خوړلو بلنه ورکړې وه ...

بدریه

سلمان چې کلي ته نږدې شو شاوخواته یې په ځیر ځیر وکتل ، بیا څو ګامه وړاندې د سړك ښۍ لاس ته په یوه چوپه کوڅه ننوت او کېڼ لورته د وروستي کور مخې ته یې آس ودراوه ، د کوڅې د نورو کورونو په ځیر دا کور هم ویجاړ او بې استوګنې ښکاریده ، د کلا دیوال ځای ځای رنګ وهلی او د دروازې یوه پله هم نه وه ، څوشیبې یې یوې او بل خواته وکتل او بیا د ننه ولاړ ، د وړوکي حویلۍ مخامخ دروازه خلاصه وه او د شمال څپو د ماتو کړکیو سره د ټکر آوازله ځانه سره وړ .
سلمان له لږ سوچ وروسته ورو غږ وکړ : څوك شته ؟ خو چې څه ځواب یې وانه وریده د واړه آسونه یې په یوه ښتني وتړل او په بیړه ووت ، هغه د چومات مخې ته د پراخې حویلۍ د دروازې مخې ته ودرید ، په هغې دروازې ننوت او بیا یې په پراخه باغ کې دوه سوه ګامه وړاندې د لوېې کلا دروازه وټکوله خو څه ځواب یې ونه موند هغه یو ځل بیا دروازه وټکوله څو شیبې وروسته یې د تورې آواز واوریده : څوك یې ؟
سلمان ورته وویل : مسعود ته غږ وکړې هغه ما پېژني .
له هغې خوا غږ و شو ښه ده ودریږه .
په دې کې د باغ له لوري په یوه هیبتناك غږ د هغه آواز تر غوږ شو : ته څوك یې ؟
سلمان مخ وروا ړاوه ، یو سړي له ونو نه دراوتلو په حال کې وه په لاس کې یې توره وه ، سلمان وویل مسعوده ! وبښه ما هسې وځورولې ، سهار مو خامخا سره لیدل خو مجبور وم همدا اوس در سره ووینم ته د کور خاوندې ته ووایه چې زه د حامد بن زهره ملګری یم .
له کلانه آواز واوریدل شو : ستا نوم څه دی ؟
د سلمان په غوږونو د غه غږ آشنا ولګید بیله ځنډه یې ځواب ورکړ : نوم مې سلمان دی .
ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او یو په ونه لوړ سړی راووت ، د اولید وه ، سلمان په خپلو سترګو باور نه کاوه زړیې پوښتنه وکړه : سعید له تاسره دی ؟
ولید : هو کې !
سلمان : هغه ټپي دی .
ولید : هو ! خو تا ته په څه معلومه شوه چې هغه ټپي دی ؟
سلمان : ما ته ډیر څه معلوم دي ، خو دا نه ژړاته معلومه چې تا هغه دلته راوستی دی ..
سلمان زر زر خپل سرګذشت ورته تیر کړ بیا ولید مسعود ته وویل سلمان د میلمه خونې ته بوځه او په دروازه کې د عمر په انتظار کېنه ، کله چې هغه راغی ما ورباندې خبر کړه .
مسعود سلمان ته وویل : مهرباني وکړه .
سلمان ولید ته وکتل وې ویل :
سعید څنګه دی ؟
ولید ځواب ورکړ : هغه تراوسه بې هوښه دی ، خو ټپونه یې تر ل شوي دي څه د تشویش خبره نه ده انشاءالله زر به بیرته روغ شي . زه اوس بیرته راځم او بیا زر د ننه ولاړ ، او سلمان له مسعود سره میلمستون ته ولاړ سلمان هلته هغه بود انو کړ چې پخوا یې لیدلی وه ولید خپله چپنه او څادر چې د باران په اوبو لانده شوي

وو هغه ته ورکړل او په کوټه کی په یوه چوکی کیناست ، نوکردهغه چپنه اوڅادرونښتیځل اوبیایی ددیوال په میخونو وغوړول ، بیایی په نغری کی اوربل کړاو بیرون ته ووت ، سلمان دلومړی ځل لپاره حس کړه چی یخنی یی پربدن ننوتل. چوکی یی نغری ته نږدی کړه او په اوریی لاسونه ورونغوړول .

***

نږدی نیم ساعت وروسته ولید راغی اوسلمان ته مخامخ په یوه چوکی کیناست ، سلمان بیادسعیدپوښتنه وکړه ولید ځواب ورکړچی تراوسه په هوش نه دی راغلی خوکه خدای(ج) کول صحت یی ښه دی .

بیاترڅو شیبو هغوی یوبل ته کتل او څه یی نه ویل، ناڅاپه دولیدله سترګو اوښکی روانی شوی سریی وښوراوه سلمان ورته وویل : وروره اوس صبرکوه ، ولید په ډیرزحمت خپل سلګی قابوکړی اووی ویل : زمااوس هم باورنه راځی چی حامدبن زهره دتل لپاره له موږنه جلاشوی ، ماهغه دغښو په لومړی باران کی ولید چی له آس نه ولوید خو تراوسه می ځان په دی تیر ایسته چی ښایی ظالمانو ژوندی نیولی وی اونه وی شهیدشوی، لماسره دسعید غم وه که نه نوپه خدای(ج) قسم چی دژوندتروروستی سلګی پوری به می له هغه نه دفاع کوله ... زه به ترمرګه داارمان کوم چی زه یوناپوه دوست وم که ماتاته له حامدبن زهره سره دلیدو زمینه برابره کړی وای ممکن په هغه دغه ورځ نه وای راغلی .

سلمان ورته وویل : هغو خپل منزل ایدلی وه اودهغه لاره بدلول زموږ له وسه وتلی وه ، اوس زموږترټولوسترمسئولیت دادی چی دسعید په روغتیاکی زیاروباسو دهغه ټپونه خو ډیر خطرناك نه دی ؟

سلمان وویل که ته دکوم ښه طبیب دکورپته راکولی شی زه همدااوس غرناطی ته دتګ لپاره تیاریم .

ولیدوویل : که زه دحکومت له تعقیب نه ،نه ویریدای نومابه دمخه دطبیب راوستلو زیارایستلی و خو خیر اوس انشاءالله دهغه ټپونه تړل شوی دی دومره داندیښنی خبره نه ده ، لږوروسته یی سلمان وویل : دومه مهمه خبره داده چی دهغه دریم کس چی دغدارانو توجه یی ځانته جلب کړه او تاسوته یی دخلاصون زمینه برابره کړه دخلاصون امکان لږ دی که ډیر،دهغه ژغورل زموږبل سترمسئولیت دی ، که تاته معلوم وی چی هغه په کوم لوری تللی زه دهغه دمرستی لپاره تیاریم .

ولید وویل: هغه به اوس ډیرلری تللی وی ، که موږزیاروباسوهم اوس هغی ته نه شورسیدایخو دهغی په باب اندیښنه مه کوه، دهغه آس دومره ګړندی دی چی دښمن به یی په ګردپسی هم ونه رسیږی .

سلمان لږفکریووربیایی پوښتنه وکړه:

دادریم سړی څوك وه؟

ولید: ښښنه غواړم، دهغه په باب زه څه نه شم ویلی ، زه دهغه نوم هم نشم ښودلی ،اوس یوازی دومره درته ویلی شم چی هغه یو ډیرښه سپاهی دی .

سلمان بیاوویل : آیادسعید لپاره دغه ځای مناسب دی ؟

ولید وویل : دازموږدخپلوانوکوردی ، که سعیدهمداسی وی نوداځای ترټولومناسب دی که یی صحت ښه شوبیابه یی غرناطی ته بوځو. خوکه هغه روغ شی هم څووخته دآس دسپرلی نه بایدډډه وکړی .

سلمان وویل: ترهرڅه دمخه اوس هغه ته دیوه ښه طبیب راوستل ضروری دی .

ولیدځواب ورکړ: دطبیب په باب اندیښنه مه کوه زماپلاردغرناطی له مشهوروطبیبانو نه دی ، خواوس سمدستی دجاسوسانو دتعقیب خطر دی ،بدریه زمادمیرمنی خورزمادپلارشاګرده ده اوس بدریه دسعیدپرعلاج بوخته ده .

سلمان وویل: اوس دهغه بدقسمته دمړی ښخولوهم څه چاره وکړی کوم چی ماپه یوه کوڅه کی یوازی پریښی .

ولیدوویل : ته بیغمه اوسه ستاپه مطلب ښه وپوهیدم .

سلمان : اوس دسعید احوال واخله که یی وضعیت ښه وی نوزه به هم درسره ملګری شم .

***

مسعودکوټی ته ننو ت اووی ویل : عمربیرته راغی ویل یی چی موږدپله په شاوخواکی هیڅ مړی ونه موند، ولیدورته وویل : ښه بیرته ورسره اوعمردلته راوله اومسعودبیرته له کوټی نه ووت ، سلمان ولیدته مخ ورواړاوه اووی ویل :

ماله تاسره دډیر وخبروپه باب پوښتنی زړه غوښتی، خوفعلاً زه بایدیو ځل ضرور غرناطی ته ولاړشم .

ولید: خو فعلاً غرناطی ته نشی تلای،

سلمان وویل : داکله کیدای شی چی دغرناطی له احوال معلومولو پرته بیرته خپل هیواد ته ستون شم ؟

ولید: نه ! نه ! ته نشی تلای ، سعیدپه لاری ستاکیسه ماته وکړه، هلته ستاتګ خطرناك دی او بیا په داسی حال کی چی که حکومت ته پته وی چی له حامدبن زهره سره له بهرملك نه کوم څوك دمرستی لپاره راغلی هغوی به حتماً ستا په تلاش اولټه کی وی ، ته همدلته باید پاتی شی زه به خامخادغرناطی سم معلومات درته راوړم ، که فرضاً زه په کوم لوری ولاړم هم تاته به پوره معلومات راواستوم اوس ته بایدهمدلته پاتی شی ، بیایی له لږچو پتیاڅخه زیاته کړه: ته ترکومه وخته دلته پاتی کیدای شی؟

سلمان ځواب ورکړ: له نن نه څلوروړځی وروسته یوه بیړی دساحل پرغاړه زماانتظارکوی که زه ورنه شم بیرته ځی بیاڅو ورځی وروسته یوځل بیاراځی او په یوه بل ځای کی انتظارباسی په دی ډول ترراتلونکودوومیاشتو پوری پرتګکل شو یو نیټو زماملګری زما دراتګ انتظارکوی ،بیاکه زه ترډی هم زیاته موده دلته پاتی شم دساحل پرغاړه داسی څوك پیژنم چی له ماسره یوڅه مرسته کولی شی.

ولیدوویل: ښه نوداخوډیره اسانه خبره شوه ته باید له ځانه سره ډیرپام وکړی ،

*

لږساعت وروسته سلمان اوولید په یوه پخه کوټه کی دسعید ترڅنګ ناست وو، سعیدبی حسه په بستره غځیدلی وه، دهغه به څیره دارامی اوسکون پرده غوړیدلی وه،داسی ښکاریده لکه په درانده خوب چی ویده شوی وی ، سلمان راوړاندی شو په تندی یی لاس ورکیښود چی ناڅاپه له بلی کوټی نه د ښځی آواز راغی : تاسوترپوه وخته له ټپی سره خبری نشی کولی تراوسه پرهغه ددوااغیزه شته .

سلمان مخ وروا ړاوه اوسترګی یی په یوه بارقاره ، له حسن اوجمال ډکه څیره ولګیدی .

ولیدوویل : بدریی ! داسلمان دی اودده له خبرودابنکاری چی حامدبن زهره شهیدشوی دی اودهغوی قاتلانوله ده پرته زموږدڅلورونوروملګرومړی هم خوړته ورغورځولی دی، زه همدااوس

ستاسواندیښنه زیاته شوه زماپلارجان ته په څوك ورواستوی

بدریی ځواب ورکړ: که دقاتلانو غشی په زهروککړنه وی نوهغه ته دتکلیف ورکولو ضرورت نشته خوبیاهم چی ته کله کورته ورسیږی نو پوځه ضروری دواراواستوه، ته یوه دقیقه ودریږه زه به ماماجان ته یو لیك ولیکم ګوندی هغه لږڅه مهمه دواراواستوی .

ولیدوویل: زه ممکن کورته ولاړنشم ، هلته ښایی زه ترپوه وخته غلی شم په هرحال زه به زیاروباسم چی ستالیك پلارته ورسوم .

بدریه: زه اوس راځم ، او هغه په بیړه مخامخ بلی کوټی نه ولاړه نوسلمان ولیدته وویل : که ددوادرالیږلودپار بل څوك پیدانه شول نوجعفرکولای شی داکاروکړی بل داچی که دی هغه دریم کس ولیدکوم چی تاسی یی دهغه لیوانوله منګولونه وژغورلی او هغوی یی په خپل لوری ورمشغول وساتل نوزماسلام ورته وایه داهم ورته ووایه چی که زه یو ځل بیاغرناطی ته دراشم نوستایونظرلیدل به می ستارمان وی .

ولید ځواب ورکړ: که زه ستاکیسی هغه ته وکړم هغه به هم ستالیدوته تلولی شی،دبیاځګرپیاید ولپاره ضروری ده چی له سمندرنه پوری دترك اوبربرمسلمانانودمرستی دجلب لپاره لازمه ده ، داځل یو پوځی ماهرهغوی ته واستوواوداکارهغه سړی چی دریم کس یادوی ښه ترسره کولی شی،داډیرامکان لری چی یوه ورځ هغه دلته راشی اودرته ووایی چی راځه زه ستادلاری ملګری یم .

سلمان: زه دداسی سړی په ملګری سفردځان لپاره نیکمرغی بولم .

بدریه له بلی کوټی نه راغله اویولیك یی دولید په لاس کی ورکړ، ولیدله سلمان سره خدای(ج)پامانی وکړه اوبهر ته ووت .

**

سلمان داورنغری ته نږدی په یوه کرسی کیناست ، بدریه دوه ګامه لری په بله کرسی هغه ته مخامخ کیناسته بیایی سلمان ته وویل :

ماستاپه باب ډیری کیسی اوریدلی خوزه ستانه دحامدبن زهره دبندی کیدودکیسی اوریدل غواړم ،آیاهغه چی له اندلس نه روان شو په لاره کی بندی شو.

سلمان : نه ! هغه دمراکش ترساحل پوری رسیدلی وه هلته یوه بربر بیړی چلوونکی هغه ته دقسطنطنیی ته درسیدوذمه و اخستی وه خو په لاره کی دمالټادووجنګی بیړیو ورباندی یرغل کړی وه او ددغه بیړی ټوله سپرلی یی ژوندی نیولی وو، ترددووهفتو پوری له حامدبن زهره نه څوك نه ووخبرچی دابه دومره مهم سړی وی ، وروسته بیا دفردنیاند سفیرته ورکړل شو او غوښتل یی چی فردنیاندته یی بندی وسپاری وروسته بیا ددوی بیړی دترکانو له دووبیړیو سره مخامخ شو له لږمقاومت نه وروسته داسپانیا بیړی له تسلیمی پرته بله لارنه لیدله په دی ډول حامدبن زهره ددښمن له منګولوخلاض شو.

بدریې وویل: تاله حامدبن زهره سره څه وخت ولیدل ؟
سلمان : زه دهغه بېړۍ کپتان وم چې داسپانیاله بېړۍ سره یې جګړه ونښتله، اوهغه بیا زماپه بېړۍ کې سپورشو، ماهغه زمونږ دسمندري قواوآمرته ورساوه، کله چې حامدبن زهره داندلس په باب کیسې وکړې زمونږآمردهرډول مرستې وعده وکړه اوامریې وکړچې هغه زرترزره بېرته اندلس ته راورسوو، زمونږامیرهغه ته داوعده ورکړه چې که دغرناطې خلک دجګړې لپاره وپاروي مونږبه خامخا مرسته ورسره وکړوخوکه هغوی وسله په ځمکه کېښوده مونږبیا هیڅ ډول مرسته نشو کولی .
مونږبیا په دووبېړیو کې له حامدبن زهره سره داندلس دساحل په لوري راغلوچې دلته موبیا داسپانیا له دووبېړیوسره ټکرراغی له لرجګړې وروسته مو دواړه بېړۍ ډوبې کړې، زه او حامدبن زهره پرساحل پلی شوواوبیادواړه دهغه کلي ته ولاړوخوناڅاپه هغه په خپل کلي کې پرېښودم اوپه خپله یوازې په نیمه شپه کې غرناطې ته ولاړماته یې وویل چې زماترراتګ پورې هلته پاتې شم اوبیا دادی ترننه داسې پېښې یوپربل پسې راغلې چې ترډې ځایه راورسیدم.
بدریې له لږ سوچ نه وروسته وویل : که جاسوسان په دې پوه شي چې له حامدبن زهره سره له بهرنه څوك ملګری راغلی وه بیا به تاته دساحل لاره له خطرنه خالي نه وي که ته دسعید لپاره پاتې وې زمامشوره خوداده چې هسې په تګ کې بیړه وکړې ښه به وي .
سلمان ځواب ورکړ: زه پوهیږم چې په اوسنیو حالاتو کې زه له سعید سره هیڅ مرسته نشم کولی خوزه بایددغرناطې له احواله پوره خبرشم ، که ترسباپورې دولیدحال معلوم نشي نوزه به پخپله دغرناطې دتګ خطرهم په غاړه واخلم .
بدریې په ډېرغوردسلمان خبروته غوږنیولی وه او سلمان داسې حس کوله چې دهغه له زړه نه باروروورو سپکیږي په لومړي سرکې هغه یوازې یوه ثانیه بدریې ته کتل خووروسته وروسته دناخبرۍ په عالم کې هغه په خبروخبروکې ترډېره دبدریې پرځیره سترګې ورخښې کړې دي ، یوځل دهغه پام شو چې له ضرورت نه زیاتې خبرې یې وکړې ناڅاپه چوپ شو.
بدریې له څو شیبو چوپتیا وروسته وویل : زه فکرکوم چې ته دومره بلدنه دي ، سلمان ځواب ورکړ:
زه دالمریه په یوه عربي نژاده کورنۍ کې زیږیدلی یم ، او زمامورله یوې بربري قبیلې نه وه ، خودایواوږواستان دي ، بدریې وویل : که ته نه تکلیفیږې نوزه غواړم دغه اوږدداستان واورم .
دبدریې په پرله پسې غوښتنه سلمان خپل سر ګذشت پیل کړ:
بېړۍ چلول اوتجارت زمونږدکورنۍ کسب وه، زمادپلار څلورشخصي بېړۍ وې ، هغه له المریې اومالقې نه پرته په مراکش اوالجزایرکې هم تجارتي مرکزونه درلودل ، هغه به زیاتره مسافروه زه دشپږوکلونووم چې مورمې مړه شوه، زماپلارلاپه سفر کې وه زه مې له نیاسره اوسیدم ، دوې میاشتې وروسته مې پلارراغی اوزه یې له ځانه سره مالقې ته بوتلم وروسته بیازماکورزمادپلاربېړۍ شوه اوزه به مې له پلارسره هرلوري ته تلم ، کله چې ترکانو پرایتالیا یرغلونه پیل کړل زما پلارهم درضاکارومجاهدینو په ډله کې نوم ولیکه څه وخت وروسته زماپلاردسمندري قواودآمرمرستیال وټاکل شو .
بدریې وویل : ډیر ښه ته دسمندردآمرمرستیال ابراهیم زوی یې ؟
سلمان : هو! دجګړې په وخت کې زماله پلارنه احوال راغی چې زمانیاوفات شوی اودهغه کورنۍ الجیریاته هجرت کړی ، شپږمیاشتې وروسته احوال راغی چې پلارمې شهیدشو، په دې ډول زماپېکې له اندلس سره غوځې شوې .
کمال رئیس چې اوس دترکانو دسمندري قواوامیردی زما دپلارملګری وه نو ځکه هغه زه له ځانه سره په سمندري قواوه کې ورسره شامل کړم اوه کاله وروسته یې ماته دیوې جنګي بېړۍ قوماندانې وسپارله ،سلمان ترډې ځایه کیسه راورسوله او چوپ شودبدریې په زړه کې ډېرې پوښتنې راګرځیدلې ، ناڅاپه سعیددوی پام ورواړاوه هغه دبېهوشۍ په حالت کې خوځل ورو وروددعاتکې نوم واخست . هغوی دواړه ورپورته شول او دسعیدترڅنګ کیناستل سعید خوځل له غاړې تازه کولو وروسته ناڅاپه بېرته چوپ شو بدریې سلمان ته وویل : ښایي هغه ترډېره وخته بیا په هوښ نه شي ،که ته دلته لږنورپاتې کیدل غواړې زه له تانه نورې هم ډېرې پوښتنې کوم .
سلمان پرڅوکې ډډه ووهله ویې ویل : که نه خفه کیږې زه دسعید ترپه هوښ راتلو پورې په دلته پاتې کیدونه یم خوښ .
هغوی دواړه بېرته په خپلو خپلو ځایونوکیناستل اوسلمان خپله پاتې کیسه وکړه.
بدریې له سلمان نه پوښتنه وکړه چې ته دحامدبن زهره دخبرولوله پاره غرناطې ولاړې نو تاته چاوویل چې حامدبن زهره ته دسیسه

جوړه ده ؟
سلمان دعاتکې کیسه وکړه اوبیا بدریې وویل :
هو! سعید دوه ځله دعاتکې نوم واخست که ترسهاره دسعیدحالت همداسې وه نوښایي عاتکه دلته راوغواړوځوکه دهغه کاکا غدار وي نو دهغه له کوره وتل اسانه خبره نه ده .
سلمان وویل : که دسعیدحالت دهغې په راتګ سره ښه کیدای شي نو په دې کې ځنډ ضرورنه دی ځکه دوی شپې وروسته امکان لري شاوخواددښمن جاسوسان خواره شي ، که ستاسواجازه وي زه به همدااوس په هغې پسې ولاړشم .
بدریه: نه ! اوس ته نشې تلای ، امکان لري ترسهاره دتېې حالت لږښه شي او مونږهغه نجلۍ ته دپریشانۍ پرځای کوم دډاډینې زیری ورکړو.
هغوی ترڅه ځنډه چوپ ووبیابدریې وویل :پرون زمالورډېره خوشاله وه،هغوته لیدلې وې ماته یې داپیغام راوړچې غرناطې ته یو مجاهدولاړله هغې لوري زمونږمیلمه کیږي هغه ستاله راتګه دمخه ویده شوی وه که نه نوترسهاره به یې خبرې درسره کولې .
سلمان: اسماء غوښتل چې زه یې میلمه شم ماوعده ورکړه اوخپله وعده په داسې حالت کې پوره کوم.
سلمان اوبدریې ترډېره وخته خپل سرګذشتونه اوتېرې خاطرې یوبل ته ویل، بدریې سلمان ته دخپل تیرژوندانه کیسې وکړې چې څه ډول ئې خاوندشهیدشواوهغه به دجګړې په جریان کې دغازیانوتېرونه ترل ... هغوی په خپلوخوږومجلسونو بوخت وو چې له بل کوټې نه داسماء آوازراغی :
بدریې په ځواب کې وویل :لورې زه دلته یم ، تراوسه سهارته ډیروخت پاتې دی ته کراره ویده شه دادی زه هم درځم .
اسماء سترګې په لاسونو مسل او کوټې ته ننوته، خوشیبې حیرانه غوندې ولاړه وه اوسلمان ته یې کتل ، بیاوراندې هغه مخې ته راغله اووې ویل : ته خوبه تېې نه وې ؟
سلمان :نه ! زه بالکل روغ رمټ یم اوبیایې دهغه پرسردمینې لاس راتېرکړ.
اسماء: مامورجانې ته وویل ے ته خامخاراځې خو مورمې زماخبرې ټوکې ګڼلې ، ماتوله ورځ ستاانتظارکاوه، خو چې یاران پیل شو ماویل اوس نه راځې نو بېرته کورته ننوتم او چې ولیدکاکا راغی ماویل ته یې .
بدریې وویل : لورې ! دادخبروخت نه دی ، هغه خوب ته ضرورت لري ولاړه شه ته هم اوس ویده شه ، بدریې بیا خدمتګارې ته وویل : میلمه ، خپل کوټې ته بوځه سلمان له ځایه جګ شو ویې ویل : نه دهغې دتکلیف ضرورت نشته زه په خپله ځم
وه اوسلمان اوړته مخامخ په بستره ډډه ووهله ...
پلار او زوی :
دابوالقاسم په کورکې دهاشم ناتوانی اوبې وسې هره شیبه مخ په زیاتیدووه ، هغه څوځل دوتلوزیار وېوست خوهغه ته داخرګنده شوه چې له یو بندي نه زیات حیثیت نه لري ، هغه ابوالقاسم ، ابوعبدالله اوپهره دارانو ته کتل اوترخې خبرې وکړې خو پهره دارانوهغه په پراخه سینه زغمل ، هاشم ته هغوی همداپوره خبره کوله چې :
صدراعظم ته دلته ایسارکړې یې هغه وایي چې اوس ستاوتل ډیرخطرناك دی .
هغه دابوالقاسم په کورکې له دوی خوړلونه انکاروکړخودپهره دارانو له ګېرنه یې ځان ونه ایستل بالا خره هغه په خپله بستره حان وروغورځاوه .
***
دشپې یوه برخه تېره شوې وه چې دروازه خلاصه شوه یو افسراودوه ملازمان کوټې ته ورننوتل،یوه نوکرچراغ روښانه کړ، هاشم ورته وویل : دخدای (ج) په خاطرپه غرناطه کې څه تیریږي ماته حال ووایې؟
افسرورته وویل : دغرناطې وضعه ډیره خرابه ده خوزربه انشاءالله ښه شي ته دلته اوسه .
هاشم بیا پوښتنه وکړه:
ابوالقاسم به دحامدبن زهره دوژلو اوپابندي کولو حکم چاته نه وي ورکړی ؟
افسر: پرحامدبن زهره دابوالقاسم څه کارنشته ، بلکې له حامدبن زهره سره دهغوی لکونوخلکوکاردی چې سوله اوآرامي غواړي ، اوبیاهغه افسراودوه نوکران ووتل ...
هاشم دغرناطې دپاچاهي له راتلونکې نه چې مایوس شو نوله ابوالقاسم سره یې مرسته پیل کړه خوکله چې ناڅاپه حامدبن زهره له بهرنه راغی دهاشم په زړه کې داميد مړې دډیوې بېرته بل شوې او ورو وروهغه له خپل ضمیر سره په جنګ کې په دې بریالی شو چې دذلت او غلامې له لارې ځان وژغورې اودضمیر غږته لبیك ووایې ، هغه ویل کاشکې زما زامن دفردنیاند له بندنه خلاص وای او دحامدبن زهره سره یې اوږه په اوږه دجهاد په صفونو کې ستړې ګاللی .
شپه نیمایي ته رسیدلې وه هاشم په کوټه کې قدم واهه چې یونو-

کرمشال په لاس کی کوټی ته راننوت اووی ویل: وزیرابوالقاسم لوښتی یی! او بیا دواړه چوپ خوله له کوټی نه بهرووتل څو شیبی وروسته هاشم دملاقات په کوټه کی دابوالقاسم په مخکی ناست وه خوشیبی دواړو په پټه خوله یوبل ته کتل او

بیاابوالقاسم وویل : زه افسوس کوم چی ته ډیره تکلیف شوی خو هیڅ هوښیارسړی هم دخپل ملګری په له لاسه ورکولونه راضی کیږی که ماته بهرته پرایښلی وای نوداالعمر ا په مخکی به نن زماپرخلاف مظاهروکی ستاآوازترټولو خلکواوچت وه .

هاشم ځواب ورکړ: که مادغرناطی په ولس کی دژوندکومه سلګی لیدلای مابه له حامدبن زهره سره ملګر ی

ګړی وه، بیا به ماته ددی خبری پرواهم نه وه چی ګردیناند زماله زامنو سره څه ډول معامله کوی ته دخلکوله ناروااومظاهری ته مه پریښانه کیږه ، دادهغه بی وسه انسانانو وروستی احتجاج دی چی دتباهی پرورروستی څنډه ولاړدی، زه په دی باوری یم چی دغرناطی په کوڅو او لاروکی به دډیر وشناختی لکی شی .

ښه داووایه چی حامدبن زهره څه شو؟

ابوالقاسم : موږهغه ته هیڅ نه دی ویل هغه له غرناطی نه ووت او اوس به دحکومت پرخلاف دغرنیوسیموقبیل راپاروی .

هاشم ابوالقاسم ته وکتل اووی ویل :

ته له مانه څه خبره پټوی زه فکرکوم چی له حامدبن زهره سره موکومه ناوړه معامله کړی وی .

ابوالقاسم په پوډول عجیبه لهجه ورته وویل چی ته زماپه خبره باورنه کوی نوباید له هغه چانه په دی باب پوښتنه وکړی چی له مانه یی ښه پیژنی .

هاشم : هغه څوک دی ؟

ابوالقاسم لاسونه سره ووهل اوهاشم ته یی وویل : تاته به اوس معلوم شی .

هاشم څوشیبی یوی اوبل خواته وکتل چی له مخامخ کوټې نه دپښوآواز ترغوږوشو، دروازه خلاصه شوه اوهاشم دسکتې په حالت کی عمیر اوعتبه ته وکتل .

ابوالقاسم وویل :عمیره! ستاپلاردحامدبن زهره په باب ډیراندیښمن دی ته هغه ته تسل ورکول شی!

عمیرپلارته وکتل خودڅه ویلو جرئت یی ونه کړعتبه وراندی راغی وبی ویل :

حامدبن زهره چی په غرناطه کی کوم اوربلاوه هغه دتل لپاره مړشو، اوس خلک دهغولیونیانو خبری نه شی اوریدای چی له دی ستر ښارنه یی له ډیره جوروله اوستاهم قباپلوته دتګ ضرورت نشته .

هاشم په ژړه غونی غروویل : هغه مواژه ؟

عتبه دځواب په ځای ابوالقاسم ته وکتل ، هاشم په وارخطایی دخپل زوی خواته وکتل او په زوره یی وویل : عمیره! زه له تانه پوښتنه کوم، دخدای(ج) لپاره راته ووایه په دی دسیسه کی شریک وی که نه !

ستالاس دحامدبن زهره په وینو داغدارنه وی، زه له مرګه وړاندی دااوریدل غواړم چی دغلامی دذلت په منلو سربیره زماکورنی دقام پرخلاف په هغه وروستی ګناه کی برخه نه درلوده ، ته ول چوپ یی ....

ابوالقاسم وویل : زه ستادجذباتوقدرکوم، خوعمیرکوم جرم نه دی کړی بلکی دجرم مخه یی نیولی ده .

هاشم ځواب ورکړ: ددغه زرګونو ناتوانه انسانانو ماته اوبی وسی دهغو غدارانو دمکراودسیسو نتیجه ده چی هغوی زموږتیرتپول عظمتونه تربښو نه لاندی کړل اوزموږدراتلونکو امیدونوټول ډیوی یی مړی کړی .

حامدبن زهره دقوم په مخکی دهغو عیاشوبی احساسه اوبی غیرته راکدارانو دګناهونو دکفاری اداکولودبلتی لپاره راغلی وه کومرچی دخپل اقتدارلپاره دملک پرراتلونکی داوراهه . حامدبن زهره قتل ددی ثبوت دی چی نه یوازی موږبه په دایمی تیاروکی پاتی ووبلکی دراتلونکونسلونو لپاره موهم بستری پکی وغوړول اوس به په دی تیاروکی هیڅکله هم رڼارانشی ، موږدهغی تیاری شپی مسافرشووچی پرلن یی ستوری اوسپوږمی نه ځلیږی ، اوس به بل څوک دحامدبن زهره په پله پل وانه خلی هغه ددغه بدبخته ولس په رګونوکی دژونددوینی وروستی څاڅکی وه او چی په ځمکه توبی شو ښایی ترقیامته زموږپربی حسی ویر اوماتم وکړی .

ابوالقاسم بی صبره شو شوندی یی له غوسی نه ترغاښو لاندی کړی دی ویل :

هاشمه ! که غرناطه له ډیری تباهی نه ژغورل ګناه وی ته هم په دی ګناه کی راسره شریک یی تابه خپله دااقرارکړی چی موږدبیا جنګ پیلولو توان نه لرو، نوکه حامدبن زهره راشی هغی ته موکه ورکول سهوه ده .

هاشم: خوته په دی شاهدیی چی زه دحامدبن زهره دوژلو په‌رسیسه کی شریک نه یم .

دابوالقاسم پرشونډویوه حقارت آمیزه موسکاخوره شوه وبی ویل : تراوسه څوکسه په دی خبردی چی حامدبن زهره وژل شویدی که ته خوله پټه ونیسی نو هیڅوک نه دی خبرچی ستازوی هم دهغه په وژلوکی شریک وه، اوس موږدیوی بیړی سپاره یو تو پرېږه دی کی وی چی ته خپله پېره هم پرمارااچوی خیر په هرصورت ته اوس لږویده شه بیا به سباخبری سره کوواوبیاابوالقاسم یوه نوکرته وویل : هغه مهمانخانی ته بوځه .

***

ابوالقاسم دعمیر اوعتبه په لوری وکتل اووی ویل : که دحامدبن تاسوبی تیرایستل وی اوبل خواته تلل وی ، باید دقباپلو دراپارولو که په لاس ورنکړو، که کورته تلل وی نو عمیربی ډیرښه احوال اخستی شی .

عمیر وویل ښه ده زه به ترسهاره ولاړشم ، ابوالقاسم ورته وویل خوګوره نوروپرکسان به له ځانه سره نه ملګری کوی ، ته که له هغه سره مخامخ کیږی باید ددوست په نامه ورسره ملګری شی نه ددښمن بل داچی دحامدبن زهره سره له بهرنه کوم جاسوس راغلی دهغه احوال باید معلوم شی ، ددی لپاره چی خلک په تاسو بد ګومانه نشی باید دحامدبن زهره دوژل کیدوخبره پټه وساتل شی ، که نورڅوک یی افشاکړی هم تاسو باید پټه خوله واوسی .

عتبه وویل : صیب ! زه په دی خبره اندیښمن یم چی له موږسره چی دپولیسو کوم شپږکسه ملګری ووهغه تراوسه پوری ورک دی، موږپه اوږده لاره ښارته راتاوشوواودوی په سم سیده سړک تراوسه نه دی رارسیدلی .

ابوالقاسم وویل: تاله پهره دارانو نه پوښتنه وکړه ؟

عتبه: نه ! موږله لویدیځی دروازی ښارته ننوتواونیغ کوتوال ته ولاړو، هغوته موویل چی کله هغه رارسیدل مورته به دلته احوال راکوی .

بیابی زیاته کړه :

موږیو سهورتعقیباوه چی دوه نورناڅاپه ورک شول ، ښایی هغه دوه تنه دوی تراوسه تعقیب کړی اوبایی نیول وی په کراری به ښارته داخل شوی وی .

ابوالقاسم وویل : په هرصورت ستاسو ترټولومهم مسئولیت اوس دسعیدلته ده ....

دابوالقاسم دساتونکو قوماندان کوټی ته راننوت اووی ویل :

صیب ! کوتوال دراتلواجازه ....

خوابوالقاسم هغه ته دخبری بشپړولو موکه ورنه کړه ورته وی وی ویل : هغه راوله !.

هغه په بیرنی اووارخطاحالت بیرته ووت اوپوڅهیبه وروسته کوتوال سا نیولی اووارخطاغوندی کوټی ته راننوت ، دهغه جامی په ختواوخاوروککړی وی او پرڅیره یی هم دختودالمونه ووهغه وویل :

صیب ! پرسړک دڅلوروتنو مړی وموندل شول اودنورودوودموندلو لپاره تلاش جاری دی .

ابوالقاسم په حیرانتیا پوښتنه یی وکړه : هغه څلورتنه پولیس وو ؟

کوتوال : هو !

ابوالقاسم : اودهغوی قاتلان ژوندی ونیول دی؟

کوتوال : هوکی ! صیب زموږیو سړی دتومانچی په ګولی لګیدلی اونور....

ابوالقاسم پری قهر شو ! کم عقله زه دانه غواړم چی وپوهیږم چی ستاذلیل او ډارن کسان په کومه وسله دوږښ ته استول شوی اوس ترسهاره باید دادوه نورکسان پاڅوندی اوپامړه وموندل شی کـ دغه کسان هغوی ته په لاس ورشی تول حال به ورته ووایی نورترسهاره یی پیداکول ستافرض دی پوه شوی که نه .

ابوالقاسم بیالږنرم شووی ویل دمړیو لاشونه باید چیرته پټ کړی چی داستاسو پرضددحامدبن زهره دوژل کیدو دلیل نه شی ورځه ترسهاره دنوروکسانو تلاش وکړه ورځه ...

بیابی عمیراوعتبه ته مخ راواړاوه :

تاسو به سهاردسعید دوی دکـل په لوری ځـی امکان لری سعیددپولیسو له وژلووروسته هلته تلل وی هغه بایدپه دوستی کی دلته راولی .

***

هاشم پرځان له زخم وتل بارحس کړ، دهغه باورنه راته چی حامدبن زهره دی وژل شوی وی ځان ته یی تسل ورکوله چی ساببی ابوالقاسم هغه ته کوم خیالی داستان اوروی وی ، ناڅاپه هغه ته څه خیال په زهن کی ورځګه شوله کوټی نه بهرته راووت بهر ددروازی په خوله کی وسله وال پهره دارولاړوه ورته وی ویل :

صیب ته چیرته ځی ؟

هاشم : زه له صدراعظم سره یوه ضروری خبره کوم.

پهره دار: صیب ترسهاره نشی ورسره لیدای ، هغه دننه تلل دی .

هاشم : زه پوهیږم خو ته ورته ووایه چی زه می یوځل زوی وینم .

پهره دار: له زوی سره دی وینی ؟

هاشم : هو هغه دابوالقاسم په کوټه کی دی .

پهره دارووبیل : ښه ده زه به یی درته راولم اووت ، لږه شیبه وروسته دساتونکو دډلی مشرراغی وی ویل :

صيب ! عمير خودرخته له دی ځايه تلل.
هاشم : زه له صدراعظم سره وينم .
نه له هغه سره هم ترسهاره نشي ليدای .
پرهاشم ناڅاپه يودول لشارراغی، غوښتل يې په زوره چيغې کړي خو غړيې په ستونی کې وچ شو ، زړه يې غوښتل چې په منډه له دې زندان نه ځان وباسي خو پښويې نورځواب ورکړ.هغه دکوټې ترستنې لاسونه تاوکړل خوورو ورو په ځمکه ولوېد، څوشيبې وروسته هغه دوروستي ځل لپاره سترګې وغړولې او شاوخواته يې په حسرت وکتل اوبيايې دتل لپاره سترګې پټې شوې .
پهره دارپه بيره خپل مشر خبرکړاوبيا دهاشم مړی دوزيرابوالقاسم په امرچيرته پټ ترخاورولاندې شو. ود
***

[illegible]

صيب ! زه ددغې ګستاخي بښنه غواړم ، خوکوتوال ستادليدو اصرارکوي ، وايي زه وزيرابوالقام رالېږلی يم .
عتبه په ډيره تکليف خپله غوسه قل کره ، پوښتنه يې وکړه : هغه چيرته دی ؟
نوکر: بهرولاړدی ، دوه تنه نورهم ورسره دي، هغه له عميرنه پټ له تاسره ليدل غواړي .

څوشيبې وروسته عتبه دکوردروازې ته راووت ، کوتوال چې وليدلوورته ويې ويل : وبښې ماپې وخته وځورولې خوصدراعظم امرکړی وه چې دهاشم په باب له تاسوسره مشوره وکړو.
عتبه وويل : موږخو دهغه په باب دافيصله کړې وه چې بايديو مناسب ځای وساتل شي عميرهم په دې خوښ دی هغه دپلار پرزندانی کيدو هيڅکله نه خفه کيږي .
